د حزب التحریر
ولايه افغانستان
مطبوعاتي دفتر

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا ۚ يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا ۚ وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾

HIZB UT TAHRIR

شنبه 22 ذی‌القعده، ۱۴۴۵هـ | ۲۰24/۰6/01م | گڼه: ح.ت.افغ 27/۱۴۴۵

## مطبوعاتي اعلاميه

## د دوحې ۳مه ناسته يو استعماري مېکانېزم دی او په هغې کې ګډون خطرناکې سياسي پايلې لري

په دې وروستيو کې د ملګرو ملتونو استازي، غربي او قطري ډيپلوماټان د دوحې ۳مې ناستې پر ناسته او اجنډا د سرپرست حکومت له استازو سره مشورې او خبرې اترې کوي. دغه استازي هڅه کوي چې د جلبوونکو وراندیزونو او هڅوونکو مواردو په وړاندې کولو سره د حاکم نظام چارواکو ته قناعت ورکړي چې په دغه ناسته کې ګډون وکړي.

د حزب التحریر – ولايه افغانستان مطبوعاتي دفتر د دوحې ۳مه ناسته يوه نړيواله استعماري ناسته بولي چې په هغې کې امريکا د يوه داسي نوي مېکانېزم د ايجاد په لټه کې ده چې په افغانستان کې لاسوهنو او د خپلو ګټو خونديتوب ته لاره هواره کړي. په دغه ناسته کې هر ډول ګډون خطرناکې سياسي پايلې لري. د دوحې ۳مه ناسته کې د امريکا په مشرۍ نړيوال کفري نظم کې د حاکم نظام د ادغام لپاره لاره هوارېږي او د افغانستان د بحران د حل لپاره نوی سياسي مېکانېزم وړاندې کېږي. په دغه ډول ناستو کې ګډون، که شرطونه هم ولري، زيان اړوونکی دی او بايد کلکه ډډه ترې وشي. په حقيقت کې غربي استعمارګر او د سيمې هيوادونه په وروستيو دوو لسيزو کې هيڅکله د افغانستان د بحران د حل په لټه کې نه وو، بلکې دغه ډول ناستې د غربي قدرتونو او سيمه‌ييزو هېوادونو تر منځ په افغانستان کې د منافعو پر سر د مشورو او سياليو ډګر دی.

مختلفو تاريخي تجربو هم ښودلې چې نړيوال کنفرانسونه او مېکانېزمونه په وروستيو څلوېښتو کلونو کې په افغانستان کې او په وروستيو څو پېړيو کې په نورو اسلامي خاورو د بحران له عواملو وو چې سياسي بحرانونه يې پېچلي کړي او ډېر وخت يې پرې نيولی، خو هېڅکله يې يوه مطلوبه نسخه نه ده وړاندې کړې چې د اسلامي امت په خير وي. دغه راز يې ناکامې او زيان‌اړوونکې سياسي پايلې په نورو نړيوالو قضيو، لکه سوريې، عراق، سوډان او يمن کې هم ښکاره ليدلی شو.

د نړيوالو ناستو د ترسره کېدو اساسي منطق دا دی؛ کله چې لوی قدرتونه و نه شي کولی چې د جګړې له لارې خپلو موخو ته ورسېږي، نو سياسي پروسې او نړيوال مېکانېزمونه فعالوي چې د هغو له لارې تر پام لاندې هيوادونو کې خپلې ګټې خوندي کړي. دا بې‌څه نه ده چې له افغانستان څخه په شرمناکه توګه د امريکا تر وتلو وروسته په تېرو دوه نيمو کلونو کې د افغانستان په اړه تر ۱۰۰ زياتې نړيوالې او سيمه‌ايزې دوه اړخيزې او څو اړخيزې ناستې شوې چې اساسي موخه يې حاکم نظام ته سياسي سفارشونه او په افغانستان کې د لاسوهنې لپاره د نوي مېکانېزم د ايجاد هڅه ده.

په حقيقت کې د افغانستان د بحران د حل اساسي او بنسټيزه حللاره نوي نړيوال استعماري مېکانېزمونه نه دي؛ چې په موډرن ډول او نوې بڼه د برېتانيوي استعمار امريکايي نسخه ده، بلکې اساسي حللاره د نبوت پر منهج خلافت دولت د تاسيس لپاره هڅې دي. هغه دولت چې په اسلامي خاورو کې د استعمار د نفوذ جرړې وباسي؛ امت ته وحدت وربښي او خپل ټول ظرفيت او وړتيا د ژوند د برنامې په توګه د اسلام د بشپړ او هر اړخيز پلي کولو لپاره سره يو کوي.

**(يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَّخِذُواْ بِطَانَةً مِّن دُونِكُمۡ لَا يَأۡلُونَكُمۡ خَبَالٗا وَدُّواْ مَا عَنِتُّمۡ قَدۡ بَدَتِ ٱلۡبَغۡضَآءُ مِنۡ أَفۡوَٰهِهِمۡ وَمَا تُخۡفِي صُدُورُهُمۡ أَكۡبَرُۚ قَدۡ بَيَّنَّا لَكُمُ ٱلۡأٓيَٰتِۖ إِن كُنتُمۡ تَعۡقِلُونَ)** [آل عمران: ١١٨]

***ژباړه:*** *اې مؤمنانو! له خپلو ځانونو (مومنانو) پرته بل څوک د رازونو شریک مه نیسئ ( ځکه دوی) ستاسې په اړه له هر ډول شر (او فساد) څخه کار اخلي، دا یې خوښېږي چې تاسې په رنځ او کړاو کې یاست، د دوی د دښمنی (نښې) یې له خولې (او خبرو) څرګندېږي او څه یې چې په سینو کې پټ ساتلي، تردې لوی دي، موږ تاسو ته (د دوی د دښمنی) نښې درښودلي، که چېرې تاسو تعقل او فکر وکړئ.*

## د حزب التحریر – ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر